# کله چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې په اړه مثبته پریکړه ترلاسه کړی

وروسته له دې چې تاسو د خپلې پناه غوښتنې په اړه مثبته پریکړه ترلاسه کړی مونږ پوهیږو چې تاسو به د فکر کولو لپاره ډیری شیان ولری. پدې کښې ممکن ستاسو د تعلیم پلانونه شامل وي، کار کول یا د هغو خلکو لیدلو لپاره تګ کول چې تاسو ورسره مینه لری. **وروسته له دې چې تاسو خپله پریکړه ترلاسه کړی، تاسو بیا لږ وخت لری مخکې له دې چې ستاسو د پناه غوښتنې ملاتړ پای ته ورسیږي نو دا مهمه ده چې لومړی په دې دریو شیانو تمرکز وکړی.**

## 1. د وضعیت او پیژندنې ثبوت - ستاسو د بایومټریک استوګنځی اجازه(BRP)

- کله چې تاسو مثبته پریکړه تر لاسه کړی، هوم آفس باید تاسو یا ستاسو وکیل ته د BRP کارټ واستوي. دا ممکن د بریښنالیک یا پوسټ له لارې راشي. تاسو باید دا لږترلږه 7 ورځې مخکې له دې چې تاسو خپل استوګنځي پریږدی ترلاسه کړی.
- BRP ستاسو د پیژندنې نوی سند (ID) دی او دا خورا مهم دی. تاسو به دې ته اړتیا ولری چې کار ترلاسه کړی یا د ګټو ادعا وکړی، او د اوسیدو لپاره یو ځای کرایه کړی.
- که تاسو د BRP کارټ ترلاسه نکړی او ستاسو ملاتړ په 7 ورځو یا لږو ورځو کښې پای ته رسیږي، مهرباني وکړی په بیړنۍ توګه د مهاجرینو مرستې سره په 503 8010 0808 ټلیفون یا positivemoveon@migranthelpuk.org بریښنا لیک اړیکه ونیسی.

## 2. ستاسو پیسې

- کله چې تاسو مثبته پریکړه تر لاسه کړی، تاسو ته اجازه درکول کیږي چې کار وکړی او پیسې وګټۍ.
- که تاسو کار نشی کولی یا په چټکۍ سره کار ونه مومی، تاسو باید د فلاحي ګټو لپاره غوښتنه وکړی (معمولا یونیورسل کریډیټ). تاسو کولی شی آنلاین، یا په شخصي توګه په خپل محلي جاب سنټر پلس کښې درخواست وکړی.
- دا سمدلاسه وکړی ځکه چې دا ستاسو د تادیاتو ترلاسه کولو دمخه یو څه وخت نیسي.
- که تاسو BRP نلری، تاسو کولی شی خپل د پناه غوښتنې مثبتې پریکړی لیک او ARC کارټ د فلاحي ګټو غوښتنې لپاره وکاروی.
- تاسو به د بانک اکاونټ پرانیستلو ته هم اړتیا ولری.

## 3. ستاسو کور

- کله چې تاسو مثبت پریکړه تر لاسه کړی، تاسو کولی شی د خپل استوګنځي په لټه کښې شی او خپل یو کور ته کډه وکړی.
- تاسو کولی شی د خپل لوکل کونسل څخه د مرستې(چېرته چې تاسو ژوند کوی او پریکړه تر لاسه وکړی) لپاره غوښتنه وکړي. که تاسو عموما صحتمند یاست او که تاسو ماشومان نه لری چې ستاسو سره ژوند کوي، تاسو ته به د لومړیتوب په سترګه ونه کتل شي او دوی به تاسو ته د استوګنې وړاندیز ونه کړي. دا مهال د هرچا لپاره د کونسل کور او د کونسل د استوګنې سخت کمښت شتون لري.

## Housing ABC

**A** لومړی- دا ومنی چې لومړی ځای چې تاسو یې وموی ممکن یوازې لنډمهاله وي. دا ممکن کوچنی، ګډ یا لنډمهاله استوګنځی وي او په هغه سیمه کښې نه وي چیرې چې تاسو غواړی ژوند وکړی.

**B** بل - کله چې تاسو یو څه ګټه او/یا دنده ولری، تاسو کولی شی د کرایې لپاره یو ښه ځای وګوری چې هغه څه ته نږدې وي چې تاسو یې غواړی، مګر بیا هم دغه ارزانه وي. شیان لکه انګلیسي ټولګي او د کارموندنې ملاتړ به تاسو سره پدې کښې مرسته وکړي.

**C** وروسته – بیا د یو آرامه کور په لټون پسې کار وکړی چیرته چې تاسو غواړی د اوږدې مودې لپاره ژوند وکړی.

SCAN ME

ستاسو په سیمه کښې د مرستې په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د ویب پاڼې پرانیستلو لپاره د خپل ټلیفون کیمره په دې **QR** کوډ کښې په نښه کړی.

RSMP NORTH WEST REGIONAL STRATEGIC MIGRATION PARTNERSHIP

boaztrust